# یاغی مجاهد ته

*تا خو سر نه ټیټول له ډیر غیرته*
*ستا د توری شرنګ ترغوږ راتلل اوچته*
*له راتګه دی غلیم ډیر ریږدیدله*
*ستا له داره تیښتیدل په هرطرفه*
**

*اما څه شوه هغه ستا غیرت او ننګ*
*اوس چی ګوروم ته نوکر یی دفرنګ*
*دغلیم په لمسون کور دی خپل وران کړ*
*ستا په شان به پیدا نشی بل بی ننګ*
**

*نور قومونه اوملتونه ځان آباد کړل*
*د خوارانو غریبا نو ژوند ښا د کړل*
*له چا ونه غوښتل خیر او خیرات*
*خپل اولس ته هوسا ژوند بنیاد کړل*
**

*څه د پا ره وژنی ته هر ورځ افغان*
*ولی نه کوی سر خپل په ګریوان*
*ته خو ځا ن ته افغا ن مسلما ن وایی*
*ا ما ستا په شا ن به نه وی بل نا د ان*
**

*ځلوېښت کاله په جګړه دی عمر تیرکړ*
*خپل فر هنګ او افغانیت دی له سر هیر کړ*
*د پنجا ب کا سه لیس ملا طا لبه*
*په بی وزلوافغا نا ن دی ظلم ډیر کړ*
**

*ماغذه نشته ستا ککره کی واښه دی*
*ستا سترګی د پیسو په لور کا ږه دی*
*څه چی وایی غلیم هغسی ته کا ندی*

پاکستان کی حواله ستا راشه دی
**
دا چی الوزوی خپل ځان په بمونه
یا چی وینی د جنت د حور خوبونه
ستا له عقله د بیزو هوښیاری ښه دی
په والله که ووینی هغه عیشونه
**
پرتابا ندی نر او ښځی ټول خاندی
که داخل کی اوسیږی یا په باندی
وایی ځان سره چی ګوره دی احمق ته
چی بی علمه د غضب په ټال کی زانګی
**
خوله مرداره غټه خیټه قاچاقبر
له تا ښه دی په غوجل کی ګاو خر
نه جهان پیژنی نه هم خپل ځان
افغانی بزګران ټول دی کړ ابتر
**
ستا ویاړنه نوکری د عربان دی
له وطنه ډالر ډیر پرتا ګران دی
دی کی شک نشته اوس ټول خلک پوهیږی
ستا بادار چلتار پوشو وهابیان دی
**
تر اخر خو په دی واک نه پاتی کیږی
له دی واکه نن سبا به زر را ولویږی
مخ تورنه برخه لیک به دی قصاص وی
په دی پوه شه چی په دار زرځوړندیږی
**
ستا په شان نورو ډیرو سر خوړلی
له شوکت اوله مقامه غورځیدلی

په جهاد او په پیسو دی مه نازیږه
هرخاین (مل) په اخر کی شرمیدلی
*****

پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»
جرمنی ۲۰۱۶-۳-۲۲